(١)

## د هیوادونو د جوړونې لاملونه

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کي فرمايلي: « وَقُلِ اعْمَلُوا فَسَيَرَى اللَّهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُ وَالْمُؤْمِنُونَ وَسَتُرَدُّونَ إِلَى عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ» ژباړه: «او [اې پیغمبره (ص)!] دوی ته ووایه: «تاسي عمل کوئ! الله، د هغه پیغمبر او مؤمنان ټول به وګوري چي ستاسي کړه وړه اوس څه دي. بیا به تاسي د هغه ذات لوري ته ور وګرځول شئ، چي په پټو او ښکاره ؤ هر څه باندي پوهیږي او هغه به تاسي ته در وښيي چي تاسي څه کول.»، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لایق د عبادت مګر يو الله دی چي هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی په حدیث کي فرمايي: « کوم يو په تاسو کې که داسي وي چې قیامت وربا‌ندي راشي او د هغه په لاس کې بوټی وي نو هغه دي وکري»، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکی سره د هغه تابعداري کوي.

و بعد:

د اسلام د مبارک دين اصلي بنستونه او لويي لاربنونی دا دي چې د هیواد سره مینه ولري او د هغي څخه دفاع وکړي د هغي د پرمختګ او ودی لپاره کار وکړی او د انسان لپاره دا د وياړ ځاي دی چې هغه د دی احساس ولري چې په واقعي ډول سره هیوادنی مینه لري او د جوړښت لپاره يي کار کوي او همدارنګه د ودي او پرمختګ لپاره يي ګامونه پورته کوي ټول هغه ملتونه چې په علمي او تمدني ډګر کې يي پرمختګونه کړي دي د هغي ترشا اخلاص مند خلک موجود وو چې پخپلو زړنو کې يي د خپلو هیوادونو مینه لرله نو د ودي او د پرمختګ لپاره يي کارونه کړي دي چې ګټه يي خلکو او هیوادونو ته رسیدلی ده زمونږ ګران هیواد مصر

هم له خپلو بچیانو څخه ددي غوښتنه کوي چې باید کار وکړي ځکه چې مصر عربي جمهوريت د عربي او اسلامي نړۍ زړه ګڼل کیږي او د امت لپاره يي د يو ډال او د توري حيثيت لري او د ترهګرۍ او د ننګونو په ضد باندي يوه خوندي کلا ګڼل کیږي نو باید ددی څخه د دفاع او پرمختګ په لاره کې کارونه ترسره شي او دا يو ديني او هيوادنی وجيبه ده چې بايد ترسره يي کړو ځکه چې مصر د تمدونونو مور ده او د اسماني رسالتونو خاوره ګڼل کیږي دا هغه هيواد دی چې په قرانکريم کې يي څو څو کرته د امنيت او د امن په برخه کې يي يادونه شوی ده لکه چې الله جل جلاله د يوسف عليه السلام په ژبه قرانکريم کې فرمايي:« ادْخُلُوا مِصْرَ إِنْ شَاءَ اللَّهُ آمِنِينَ»ژباړه:« ځئ، اوس مصر ته لاړ شئ. که د الله خوښه وي، نو په امن او بې غمۍ سره به اوسئ."».
الله جل جلاله دی صلاح الدين الصفدي ته خير ورکړي چې ويلي دي: څوک چې ځمکه او د هغي ټول اړخونه وګوري او همدارنګه پکې ډول ډول خلک او اجناس وګوري که چيرته مصر او د هغه اوسيدنکي يي نه وي ليدلي نو هغه دنيا او خلک ندي ليدلي .
بی له شکه د هيوادونو وده پرمختګ او جوړونه د ملت لپاره د عزت کرامت د ژوند ضمانت کوي چې د خلکو درناوي پکې کیږي خو د هيوادونو جوړونه يوازي په خبرو خيالونو او په اميدونو باندی نه کیږي بلکي لازمه ده چې کوښښ وکړی شي او خوله تويه کړی شي او قرباني ورکړی شي او همدارنګه د جوړوني د اسبابو او د ودي او د پرمختګ او د تمدن د لاملونو نيونه وشي چې د دغه اسبابو څخه مهم يي په لاندی ډول دي:
په ننګونو باندي ځان پوهول: د هيواد په ارزښت باندي ځان پوهول او د هغو ننګونو پيژندنه چې هيواد ورسره مخامخ وي او همدارنګه هغه خطرونه چې په هيواد باندي راچاپيره وي بايد په هغه ځان پوه کړي دا ددی لامل کیږي چې د ننګونو اندازه معلومه کړی شي چې مونږ ورسره

لاس او ګريوان يو ځکه چې د دغه ننګونو د درک پرته مونږ نشو کولای چې د هغه د حل لپاره لاري پيدا کړو بې له شکه چې د هيواد په ارزښت باندي د پوهيدو مسئله او همدارنګه د ملي دولت رامنځته کيدل او د هغي د ودي او د پرمختګ لپاره کار کول يو د مهمو لاملونو څخه ګڼل کيږي چې د يو پياوړي دولت رامنځته کيدونکي دي او همدارنګه دا يو د مهمو بنسټونو څخه ګڼل کيږي چې هيوادني مينه او د هغه د ارزښتونو ساتنه په انسان کې رامنځته کوي ترڅو د هغي د شتمنيو ساتنه وشي.

همدارنګه د هيواد په اهميت باندي ځان پوهول ددی غوښتنه کوي چې مونږ ټول هغه غلط تعبيرونه او مفهومونه له منځه يوسو چې ترهګرو او تندرو ډلو رامنځته کړي دي او د خلکو په ذهنونو کې يې راوستي دي ځکه چې دغه ډلو خپله فلسفه پدي باندي ودرولي ده چې هڅه کوي ترڅو د ولسونو او د حاکمانو او د چارواکو ترمنځ فاصله او واټن رامنځته کړي او حال دا چې د ټولو اديانو لارښوني دا دي چې مونږ بايد واکمنانو چې هغوي عدالت ولرو د هغو درناوي وکړو لکه چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: که څوک غواړي چې الله جل جلاله ته درناوي وکړي نو د سپين ږيري مسلمان او د قران حافظ او همدارنګه د هغه بادشاه درناوی دی وکړی چې عادل وي الله جل جلاله هغه حاکم چې عدالت کوونکی وي د قيامت په ورځ په اووه هغه کسانو کې شمارلی دی چې د الله جل جلاله د عرش تر سيوری لاندی به وي هغه ورځ چې د عرش د سيوری پرته بل سيوری به نه وي لکه چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: اووه داسی کسان دي چې د الله جل جلاله د عرش تر سيوری لاندی به وي په هغه ورځ چې د عرش سيوری پرته بل سيوری به نه وي او ددغه اوو کسانو په سر کې هغه بادشاه شمارلی دی چې هغه عدالت کوونکی وي.

د هيوادونو د جوړونو لاملونو او بنسټونو څخه بل هم دا دی چې پدغه لاره کې قرباني ورکړي هيوادني حقيقي مينه دا نده چې يواځي شعارونه

ورکړی او یا هم داسی خبری وکړی چې بی ګټی وي بلکي هیوادنی مینه داسی یو نظام دی چې ته باید د هیواد په درد باندي ودردیږي او هغه ننګوني په ګوته کړي چې هیواد ورسره لاس او ګریوان وي او همدارنګه د هیواد په پرمختګ باندي خوشحاله شي او همیشه دیته چمتوالی ولري چې د هیواد لپاره قرباني ورکړي.

د هیواد څخه دفاع د هغه ساتنه او د هیواد په لاره کې قرباني ورکول یو شرعي وجیبه ده او همدارنګه یو هیوادني وجیبه ده په هر هغه چا باندي چې پدغه خاوره باندي ژوند کوي او د د غه هیواد د اسمان لاندي اوسیږي هیواد سره مینه یواځي په احساس او عاطفی باندی ولاړه نده بلکي لازمه ده چې ددغه احساس او عاطفی ترجماني په عمل کې ثابت کړی او همدارنګه نیک سلوک ولری چې وګړو او ټولنو ته پري ګټه ورسوي نو له همدي لپاره د هیواد دپیاوړی ساتني لپاره باید قربانی ورکړی هیواد سره مینه پخپله هیوادوالو باندی دا لازموي چې د هغه ساتنه وکړي او ټول یو موټی شي ترڅو د هغه څخه دفاع وکړي ځکه چې په هیوادونو کې استقرار او برقراري یو ضروري کار دی ترڅو د الله جل جلاله له لوري هغه مقصد ته پری انسانان ورسیږي چې هغه د ځمکي ابادول دي او د دین لوړوالی دی او د دیني عباداتو سرته رسول دي په اسلام کې جهاد ددی لپآره فرض کړی شوی دی ترڅو د هیوادونو ساتنه وشي او د ظلم او تجاوز مخنیوي وشي نو د همدی لپآره الله جل جلاله د هغه چا مرتبه ډیره لوړه کړی ده چې خپل ځانونه د الله جل جلاله په لاره کې او د خپلو هیوادونو په دفاع کې قرباني کوي لکه چې الله جل جلاله فرمایي:« إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ وَالْقُرْآنِ»ژباړه:« حقیقت دا دی چې الله له مؤمنانو څخه د هغوی نفسونه او د هغوی مالونه د جنت په بدله کښي اخیستي دي. هغوی د الله په لار

کښي جنګیږي، نو وژني او وژل کیږي. له هغو سره په تورات، انجیل او قرآن کښي (د جنت وعده) د الله پر ذمه باندي یوه کلکه پخه وعده ده.».
د هیوادونو او د تمدنونو د جوړونو د مهمو لاملونو او بنسټونو څخه بل هم دادي چې په جدي ډول کار وکړي او همدارنګه په هغي کې دقت وکړي الله جل جلاله او همدارنګه د اسلام مبارک دین د کار ارزښت دیر لوړ کړی دی او دا یی د عبادت د دروازو څخه یوه دروازه ګرځولی ده بلکي د عبادت د لوړو مرتبو څخه یي شمیرلی ده نبي کریم صلی الله علیه وسلم ددی توصیف د الله په لاره کې په جهاد باندي کړی دی د کعب بن عجره څخه روایت دی چې یوسړی نبي کریم صلی الله علیه وسلم ترڅنګ تیریدلو نو صحابه ؤ هغه ولیدلو او د هغه فعالیت یي خوښ شو نو حیرانه شو ورته بیا صحابه ؤ ورته وویل اي د الله رسوله که چیرته هغه دا د الله په لاره کې سرته رسولی وای نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل که چیرته دا سړئ ددی لپاره وتلی وي چې د خپلو بچیانو لپاره نفقه پیدا کړي نو هغه د الله په لاره کې دي او که چیرته ددی لپآره راوتلی وي چې د خپل مور او پلار لپاره خدمت وکړي نو هغه هم د الله په لاره کې دی که چیرته د خپل ځان لپاره وتلی وي ترڅو خپل ځان د سوال څخه وژغوري نو هغه هم د الله په لاره کې دی او که چیرته هغه د کبر او په ریا باندی وتلی وي نو هغه بیا د شیطان په لار روان دی.
نو دین او هیوادنی مینه په ګډه سره ددی غوښتنه کوي چې باید هڅه وکړی شي همدارنګه په دقت ډول سره کار وکړی شي او همدارنګه تولیداتو کې برخه واخیستلی شي په ځانګړي توګه زمونږ دین د کار کولو او همدارنګه په هغه کې د دقت کولو امر کړی دی الله جل جلاله فرمایي:« الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا وَهُوَ الْعَزِيزُ الْغَفُورُ »ژباړه:« هغه ذات چي مرګ او ژوند یې پیدا کړ، تر څو چي تاسي وازمایي، وګوري چي ستاسي څخه کوم یو ډېر ښه عمل کوونکی دی. او هغه زورور هم دی او ښنونکی هم.» ، همدارنګه فرمایی: «يَا أَيُّهَا

الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ * فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ * وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انْفَضُّوا إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَائِمًا قُلْ مَا عِنْدَ اللَّهِ خَيْرٌ مِنَ اللَّهْوِ وَمِنَ التِّجَارَةِ وَاللَّهُ خَيْرُ الرَّازِقِينَ»ژباړه:« اې مومنانو! کله چي د جمعې په ورځ د لمانځه لپاره ږغ (اذان) وشي، نو د الله د ذکر (لمانځه) خوا ته وځغلئ او پيرل، پلورل (رانيول او خرڅول) پرېږدئ؛ دا ستاسي لپاره ډېره غوره ده که تاسي پوهېږئ.* بيا کله چي لمونځ تر سره شي، نو په ځمکه کښي خواره شئ او د الله فضل ولټوئ. او د الله ډېر ډېر يادوونکي اوسئ. ښايي چي تاسي ته برى په برخه شي.* او کله چي دوى سوداګري او لوبه ننداره کېدونکې وليدله، نو د هغې خوا ته وخوځېدل او ته يې ولاړ پرېښودلې. دوى ته ووايه: "له الله سره چي څه دي، هغه د لوبې د نندارې او سوداګرۍ څخه غوره دي؛ او الله تر ټولو ښه روزي ورکوونکى دى."» او نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: که يو څوک د خپل د لاس ګټلى خواړه خوري نو هغه لپاره دا ډير غوره دي او د الله جل جلاله نبي داود عليه السلام د خپل لاس ګټلى خواړه يي خوړل.
مونږ دلته پدى باندي ټينګار کوو چې زمونږ د اسلام مبارک دين يواځې مونږ ته د کار کولو امر ندى کړى بلکى مونږ څخه يي غوښتنه کړي چې د کار ترڅنګ بايد دقت هم وکړو لکه چې الله جل جلا له فرمايي:« إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ مَنْ أَحْسَنَ عَمَلًا »ژباړه:« نو دا يقيني ده چي موږ د نېکوکارانو اجر نه ضايع کوو.»او همدارنګه نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: يقينا الله جل جلاله په تاسو کې هغه څوک خوښوي چې هغه کار کوي او په کار کې دقت کوي.
د هيوادونو او د تمدنونو جوړونى د بنسټونو څخه بل هم علم پوهه اوښه مديريت دى ځکه چې د هيوادونو جوړونه خپله پوهه او تجربى او تخصص ته اړتيا لري يواځې دا نه چې ته خواهش وکړى کله چې مونږ

په قرانکریم او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په احادیثو کې نظروکړو نو ګورو چې پدغه دواړو کې ټینګار شوی دی چې باید توانمندي امانت او پوهه په نظر کې ونیول شي لکه چې الله جل جلاله د یوسف علیه السلام په ژبه باندی په قرانکریم کې فرمایلي دي:« اجْعَلْنِي عَلَى خَزَائِنِ الْأَرْضِ إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٌ» ژباړه:« د هیواد خزانې ما ته وسپاره، زه ساتونکی هم یم او عالم هم."»او همدارنګه د شعیب علیه السلام د لور په ژبه باندی الله جل جلاله د موسی علیه السلام په هکله په قرانکریم کې فرمایلي دي: « يَا أَبَتِ اسْتَأْجِرْهُ إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْأَمِينُ»ژباړه:« خپل پلار ته وویل: "پلاره جانه، دغه سړی نوکر ونیسه؛ دی تر ټولو یوه غوره څوک دی چې نوکر یې نیسې، ځکه چې قوی او امانتدار دی."».

نبي کریم صلی الله لیه وسلم ددی څخه خبرداری ورکړی دی چې باید که یو څوک د یو کار توانمندي ونلري نو هغه باید ترسره نکړی او ویلي دي که چیرته داسی وشي نو دا به د قیامت د نښو څخه یو نښه وي نبي کریم صلی الله علیه وسلم پدي هکله فرمایي: کله چې د چارو واګې نا اهلو ته وسپارل شي نو د قیامت انتظار وکړی او د چارو لپاره اهل په هر ډګر کې هغه څوک دی چې د هغه توانمندي او امانتداري ولري.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم خپل صحابه او د دولت کارکوونکی د علم توانمندي او د مسئولیت په اندازه باندی ټاکل هیڅوک یي د مجاملي خپلولي او یا د میني په بنسټ باندی نه وو ټاکلی د ابي ذر رضی الله عنه څخه روایت دی دی وایي ما وویل ای د الله رسوله ما ولی نه ګماری؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم خپل لاس زما په اوږو باندی کیښودلو او وی فرمایل: ای اباذره ته کمزوری یي او دا یو امانت دی او دقیامت په ورځ پښیمانتیا ده مګر هغه څوک چې ددی حق اداء کړي او هغه څه ترسره کړي چې په هغه باندی دي همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه سلم عبدالرحمن بن سمره ته وفرمایل: اي عبدالرحمانه! ته د امارت غوښتنه او پوښتنه مکوه ځکه که چیرته دا ستا په غوښتنه باندی تاته درکړل شي نو دا په تا باندی

مسئولیت دی او که چیرته بغیر د غوښتنی څخه تاته درکړل شي نو الله جل جلاله تاسره پدی کې مرسته کوي.

اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم

*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

ډیرو درنو مسلمانانو ورونو:

د هیوادونو د جوړوني د مهمو لاملونو او بنسټونو څخه یو هم د اخلاقی ارزښتونو او بشري سلوک لوړوالی دی، هغه ملتونه او تمدنونه چې په اخلاقي ارزښتونو ولاړ نه وي هغه نه شي پاتي کیدلای ځکه چې دوی که دا ارزښتونه مراعت نکړې نو دوی داسې دي ګویا د خپل ځان د له منځه وړلو بنسټ یي پخپله ایښی وي، الله تعالی دي ددغه شعر شاعرته خیر ورکړې چي ویلي یي دي: هرکله چې د یو ملت اخلاق فاسد شول*

*نو په هغي باندي خواخوږي او تسلیت لا د مخه وړاندي کړئ.

بل شاعر وایي: د ملتونو ژوند د اخلاقو سره تړلی دی*

*که د هغوی اخلاق فاسد شول ملت هم له منځه ځې.

د اخلاقو لپاره په اسلام مبارک دین کې ډیره لوړه مرتبه ده ځکه د اخلاقو په وسیله د مسلمان د ایمان درجې لوړیږي او د قیامت په ورځ د الله تعالی په وړاندې د حساب او کتاب تله یې درنیږي لکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: د قیامت په ورځ د مومن بنده په تله کې د نیکو اخلاقو څخه بل څه ډیر دروند نه وې او الله جل جلاله د فاحش او بد انسان څخ نفرت کوې او کله چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه د هغه خلکو په هکله پوښتنه وشوه چې جنت ته به داخلیږي وي فرمایل: هغه څوک

چې د الله جل جلاله څخه ویریږي او پرهیزګار وي او هغه څوک چې نیک اخلاق ولري.
نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ایمان د بشپړوالي او کموالی معیار او اندازه د نیکو اخلاقو پوري تړلی لکه چې فرمايي: په مومنانو کې بشپړ ایمان والا هغه څوک دي چې نیک اخلاق ولري، همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي: هر چیرته چې وي د الله جل جلاله څخه ویریږه او ګناهونه په نیکیو سره له منځه یوسه او د خلکو سره نیک اخلاق کوه.
نو نیک اخلاق انسان دیته اړ کوي چې نیک خویونه په ځان کې پیدا کړې لکه رحمت نوروته ګټه رسول او خلکوته د ښیګڼې رسوني لپاره کوښښ کول ترڅو هیوادونو او خلکو ته ګټه ورسوي د ځان ښودني او د انانیت څخه لري کیدل ځکه چې زمونږ دین په فدا کارۍ او نوروته د میني په ورکړي باندي ولاړ دی نه دا چې بخیلی خود خواهي او انتقام ترسره کړې.
د هیوادونو او تمدنونو د بنسټونو څخه بل هم عدالت دی، نو هیوادونه باید د عدالت په بنسټ باندي ودریږي چې د ټولو خلکو ترمنځ په حقوقو او وجایبو کې برابرۍ موجوده وي بغیر لدي چې د هغوی ترمنځ توپیر وکړې او پدي باندي الله تعالی مونږ لپاره پخپل کتاب قرآن کریم کې امر کړی دی لکه چې فرمايي: « إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَى وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ»ژباړه:« الله د عدل، ښیګڼې او خپلوۍ پالني حکم کوي. او له بدۍ، بې حیایۍ او زور، ظلم څخه منع کوي. هغه تاسي ته نصیحت کوي تر څو درس (پند) واخلئ.»، او داسي ویل شوي چې الله جل جلاله عدالت کونکي دولت او حکومت ته برۍ ورکوي اګر که کافر هم وي او ظالم دولت او حکومت ته برۍ نه ورکوي اګر که مسلمان هم وي، ځکه چې که چیرته په ریښتیا مسلمان وي نو هیڅکله په ظلم باندي نه راضي کیږي او نه هم په ظلم

باندي ولاړ وي، نو له همدي لپاره ويل شوي هغه هيوادونه چې د كفر سره يي عدالت مراعت كړی وي دوام پيدا كوي خو د اسلام سره كه ظلم موجود وي نو دوام نه كوي ځكه چې پدغه صورت كې ديندارۍ بيا حقيقي نه بلكه شكلي وي چې د اسلام په مفهوم او لوړو مقصدونو باندي نه پوهيږي چې په حقيقت او عدالت باندي ولاړ دی او هر ډول ظلم او بغاوت ردوي.

يا الله مونږ پخپلو هيوادونو كې په امن كړې او زمونږ مشران او رهبرانو ته د ښه كارونو توفيق وركړې او زمونږ هيواد د دښمنانو له مكر او فاسدانو له فساد څخه په امن كې ولري.